# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۰ ګڼه / دوشنبه ۲۵ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۵ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۵ می ۲۰۲۳ میلادي


## برخی از ساحات نفتی و گازی کشور به داوطلبی گذاشته می‌شود

شیخ شهاب الدین دلاور، سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با یک هیئت شرکت چینی گفته است که این وزارت بـه‌زودی تعدادی از ساحات دارای نفت و گاز کشور را به داوطلبی می‌گذارد.وزارت معادن و پترولیم با نشـر خبرنامه‌یی گفته است که در این دیدار شرکت چینی از تمایل خود برای سـرمایه‌گذاری روی نفـت و گاز در افغانسـتان سخن گفته است.سرپرست وزارت معـادن و پترولیـم از علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری شرکت‌های خارجی بر منابع معدنی افغانستان استقبال کـرده و گفته اسـت: «افغانسـتان دارای منابع سرشار نفت... ۵مخ



## ځه باندې ۲ زره جریبه ځمکه د کوکنارو له کښته پاکه شوې



کورنیو چارو وزارت ویلي، چې د کوکنارو کښـتونو د اړولو او له نشـه‌يي توکو سره د مبارزې پولیسـو پـه ۹ ولایتونـو کې ۲۱۸۳ جریبه د کوکنارو کښتونه لـه منځـه وړي دي. د دغـه وزارت د څرګندونـو له مخې، ۷۷۷ جریبـه د فاریاب ولایت په پښتون کوټ، بلچراغ، المار، کوهسـتان او خیبر ولسـوالیو کـې، ۴۰۰ جریبـه پـه پکتیا، ۲۹۲جریبه پـه ننګرهار، ۱۲۷ جریبه په تخار... ۵مخ

## سفر دیپلمات‌های ایران به ولایت کندز

رئیـس ارتباط خارجـه ولایت کندز مـی گوید که سرکنسـول جمهوری ایران در مزار شـریف با شـماری از دیپلمات‌های این کشور در سفری به ولایت کندز، روی گسـترش روابط تجارتی و بازرگانی با مقامات محلی این ولایت گفتگو کرده است.

رئیس ارتباط خارجه کندز به آوا گفت که پنج شنبه هفته گذشته، یک هیئت جمهوری اسـلامی ایران به ریاست سرکنسول این کشور در مزارشریف، به کندز سـفر داشـت و در دیداری که مقامـات محلی داشـتند، روی موضوعات مهم تجارتی و اقتصادی صحبت کردند. ص۲

## ۲۳ ولایتونو کې د پولیو ضد واکسین کمپاین پیل شو



دعامې روغتیا وزارت نن دوشـنبې په ورځ په ۲۳ ولایتونو کې د ماشـومانو د ګـوزڼ د ناروغۍ یـا پولیو پر ضد د واکسـین د فرعي کمپاین د پیل خبر ورکوي. دې وزارت ویلي چې،... ۵مخ

## له افغانستان سره دقطري مرستو پردوام ټینګار شوی

د قطر د بهرنیو چارو وزیر محمد بـن عبدالرحمن ال‌ثانـي پرون له خپل امریکایي سـیال انتوني بلېنکن سـره د ټلېفونـي اړیکې پـر مهـال د افغانسـتان پـه اړه خبرې کـړې دي. د قطر د بهرنیو چـارو وزارت پـه‌دې اړه په یوې اعلامیه کـې لیکلي، دوی په دې خبرو کـې د قطر او امریکا د دوه اړخیـزو اړیکو او په افغانسـتان کـې د وروسـتیو پرمختګونو په اړه بحث کـړی دی. همداراز د امریـکا د بهرنیو چـارو وزارت هم په یوې اعلامیـه کې لیکلي، چې بلېنکن پـه‌دې خبرو کې له افغانستان سـره د قطر د مرستو د سـتاینې تر څنګ د دې مرستو پر دوام ټینګار کړی دی.





## هند کې باید دافغان سفارت خپلسریو مخنیوی وشي

په هند کې مېشـتو افغـان کډوالو په هغـه هېواد کې د افغانسـتان په سـفارت کې د پراخ فسـاد په اړه د بهرنیو چارو وزارت ته شکایت کړی دی.

دغو اسـتازو د بهرنیو چارو وزارت ته په استول شـوي لیک کې هلته د سـفیر فرید مامونـدزی او د هغه ملګرو له پراخ فسـاد، غلاوو او له خپل صلاحیت څخـه د ناوړ ګټې اخیستنې په اړه پرده پورته کړې ده. دوی خبرداری ورکړی، چې که هلته د افغانسـتان په سفارت کې د روانو خپل سـریو مخنیوی ونه شـي، نو لرې نه ده، چې د افغانستان سیاسي حیثیت ته به پکې... ۵مخ



## لوګر کې د لړګیو د قاچاق په تور ۵ تنه نیول شوي

د لوګر د امنیې قومندانۍ مسـوولین وایـي، چـې د دغه ولایـت د آزرې ولسـوالۍ په مربوطاتو کې يې ۵ تنه د لرګیو د قاچاق او ځنګلونو د پرې کولو په تور نیولي دي. د دغه ولایت د امنیې قوماندانۍ مسؤلینو په‌وینا، چې دآزرې ولسوالۍ د امنیې قوماندانۍ منسوبینو د دغه ولسوالۍ اړوند د سپین جومات او پنځه کس سیمو کې دونو او ځنګلونو د پرې کولو او لرګیو د قاچاق په تور نیولي دي.د مسـؤلینو په خبره، چې له یادو کسانو سره یو ځای درې برقي اره هم دامنیتي منسوبینو لاسته‌ورغلي دي.

| | | |
|---|---|---|
| نمونه‌های جنگ فکری ص۲ | پر اولاد د مور او پلار حقوق ۳مخ | پیشگیری از جرایم درآموزه های قرآن ص ۴ |

## د جبل السراج سمنټو فابریکې مسؤلینوته لازمې لارښوونې وشوې

د مـلي پراختیا شرکـت عمومي اجرائیـوي رئیـس عبدالرحمـن عطـاش او مل تخنیکـي ټیم له پروژو څخـه د لیدنو پـه لړ کې دا ځـل د جبل السراج د سـمنټو فابریکې له چارو څخه لیدنه وکړه. عطاش د فابریکې سمنټو له تولید او د دې فابریکې له شـنې سیمې څخـه د لیدنې پرمهال خوښـي څرګنده کړه او... ۵مخ

## تورخم ګمرک کې د قیمتي ډبرو د قاچاق مخنیوی وشو

مالیـې وزارت د ننګرهار په تورخم ګمرک کې د یو اندازه قیمتي ډبرو د قاچاق د مخنیوي خبر ورکړی دی. یاد وزارت په خپله ټویټر پاڼه لیکلي چـې د تورخم ګمـرک د صادراتو برخې منسـوبینو پـرون د یو اندازه قیمتي ډبرو د قاچاق مخنیوی کړی، چې په یوه بـار وړونکي موټر کې ځای پر ځای شـوي وو.د سرچینې د مالوماتـو له مخې پـه دې قیمتي ډبرو کې ۴.۱۸ کیلو ګرامه د بیروج، ۹۷.۵۰ کیلو ګرامه... ۵مخ



سرمقاله

## روابط سیاسی میان کشور ها لازمه ایجاد روابط اقتصادی است

درجهان امروز، توسعه خط آهن یکی از با ارزش ترین وبا اهمیت تریـن موضوعاتی مـورد بحث،پیرامون سـهولت های تجاری وترانزیتی اسـت واین مسأله کشـور ها را نیز وا داشته تا ازطریق خط آهن ، اموال تجاری وترانزیتی خودرا به اسراع وقت به بازار های منطقه وجهان عرضه کنند.

افغانستان نیزازجمله کشورهای اسـت که سالیان درازی از نبود توسـعه خط آهن یا ریل رنج برده ونتوانسته محصولات زراعتی ،صنایع دسـتی ،مواد خام معدنی و... را به صورت آنی به بازار های منطقه وجهان پیشـکش کند خوشبختانه بعد ازحاکم شدن امارت اسلامی به افغانستان مسوولان امور علاوه بربخش های حیاتی وعمرانی دیگر به این مسأله مهم نیز توجه کرده، درتفاهم با کشورهای همسایه درحال رفع این معضل هستند.

به تازه گی وزارت صنعت وتجارت امارت اسلامی از ورود اولین قطـار اموال بازرگانی از طریق مسـیر خواف - هرات به ولایت هرات خبر داده وتأکید نموده که این قطار به گونه آزمایشـی بوده ومرحله یی دایمی آن متعاقباً عملی خواهد شد ،همچنان امارت اسـلامی نیز تاکید کرده که توسعه شبکه خط آهن از اهداف مهم وکلیدی امارت اسـلامی اسـت که نقش مهمی دراتصال منطقه ومبادلات سریع کالا های بازرگانی دارد.

ازایـنرو گفته میتوانیم که داشـتن روابط سیاسـی وامنیتی میان کشورها، لازمه ایجاد روابط اقتصادی است واین روابط اقتصادی است که با گذشت زمان میتواند به تقویت سیاسی وامنیتی منجر گردد وترانزیت نیز با توجه به ماهیت خود... ص۵

## لوګر کې په ۹۰۰ کورنیو ته د ځنباک اوبه برابرې شي

د لوګر د کلیـو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په ازرې ولسوالۍ کې د نږدې ۶ میلیونو افغانیو په لګښت د ځنباک اوبو د ۶ شبکو د جوړولو چارې پیل شوې.د دغه ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاسـت د نشراتو مسوول صبغت اللـه نایب خېل وویل، چې دغه شبکې د ارزې ولسوالۍ... ۵مخ



## د بغلان اوبو لومړی بند له رسوباتو پاکېږي

د پنج آمو سـیندیزې عمومي حوزې رئیـس انجنیر رفیع اللـه مجتبی، د بغلان سیندیزې فرعي حوزې رئیس قاري محب الله عادل د یو شمېر نورو سـیمه ییزو مسؤلینو په ملتیا د بغلان ولایت د اوبو ذخیـروي لومړي بند څخه لیدنه وکړه.د پنج آمو سیندیزې عمومـي حـوزې رئیـس د بغلان سیندیزې فرعي حوزې ئیس ته د یاد بند په کاسه کې د راټول شوو رسوباتو د پاکارۍ په موخه لازمې لارښوونې وکړې.یاد بند د شـاوخوا ۱۵ میلیونه متره مکعب اوبو د ذخیره کولو او ۱۳ میګاواټه برېښـنا د تولید وړتیا لري؛ چې د بند په کاسه کې د راټول شویو رسوباتو له کبله د اوبو... ۲مخ


## کابل او کندهار کې ۱۱ تنه د غلا په تور ونیول شول

امنیتي مسـؤلینو په کابل او کندهار ولایتونو کـې د غلا په تور د ۱۱ تنو د نیولو خبر ورکوي.امنیتي سرچینو په پلازمېنه کابل کې د غلا۵مخ




## پکتیا کې ۷۷ تومانچې ضبط شوې

د پکتیـا د امنیـې قومندانـۍ مسـوولین وایي، چې ځواکونو يې د دغه ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کـې ۷۷ میله تومانچې کشـف او ضبط کـړې دي.د یـاد ولایت د امنیـې قومندانـۍ مطبوعاتي دفتر د یـوې خبرپاڼې په خپرولو سـره ویلي، چـې تېره شـپه د ډنډ پټان ولسوالۍ امنیتي ځواکونو... ۵مخ



# نمونه‌های جنگ فکری

محمد عمر عمری

**یهودیت جهانی (صهیونیسم)**

صهیونیسم یا یهودیتِ جهانی بزرگ‌ترین خطری است که جهان کنونی را تهدید می‌کند.

در واقع خطر صهیونیسم بیش از آنکه دامن مسلمانان را بگیرد گریبان گیر سایر جهانیان خواهد شد.

جهان زیر سایه‌ی حکومت یهود، چنان دچار ظلم و وحشت و بربریت خواهد شد که تاریخ به خود ندیده است.

یهود امروز دعوای سکونت در سرزمین فلسطین را دارد اما در حقیقت آن‌ها سرزمین فلسطین را اولین قدم برای خود می‌دانند تا حکومت خود را بر تمام جهان برپا کنند.

یهود معتقد است که تنها قوم یهود شایسته‌ی رهبری جهان است و اقوام دیگر فقط شایستگی خدمت به یهود را دارد و بس.

آن‌ها بر این باور اند که ابتدا باید زمین را برای ورود مسیح موعود آماده کنند و بعد از نزول مسیح موعود حکومت جهانی یهود برپا خواهد شد.

ناگفته نماند که منظور از مسیح موعود همان دجال است.

یهود زمینه را برای ظهور دجال فراهم می‌کند.


یکی از اسباب ظهور دجال، فساد و فحشای جهان شمول است که باید سراسر دنیا را در بر بگیرد.

به همین دلیل یهودیان با ایجاد سازمان‌ها و تشکل‌های مختلف در گوشه گوشه‌ی دنیا دنبال ترویج فحشا و منکرات است تا زمینه برای ظهور آقای شان دجال فراهم شود.

بسیاری از شرکت‌های فیلم‌سازی در ملکیت کامل یهودیان است.

صنعت فیلم‌های مبتذل و غیراخلاقی که امروزه دنیای کفر از آن به عنوان یک صنعتِ اقتصادیِ پول‌ساز یاد می‌کند کاملا در ملکیت یهودیان است و مفاد سالانهٔ آن به اسرائیل می‌رسد.

امروزه فیلم‌سازی به یکی از ابزار مهم جنگ فکری تبدیل شده است و افکار ضد اسلامی از این طریق پخش و نشر می‌شود.



یکی دیگر از تشکل‌های صهیونیسم یا همان یهودیت جهانی، گسترش نفوذ سیاسی آنهاست که روز به روز در حال پیش‌روی در این راه هستند.

امروز هیچ کشوری به نام یهودی‌ها نیست اما عملا بسیاری از رئیس جمهورهای کشورهای مختلف یهودی و در خدمت اسرائیل هستند.

از آنجمله آمریکای شنیع و ملعون (لعنهم الله دهر الداهرین و ابدالآبدین) است.

در مطلب جداگانه‌ای در آینده به رئیس جمهورهای آمریکا که یهود و در خدمت اسرائیل بودند خواهیم پرداخت اما از میان همهٔ آن‌ها به جرج بوش که آغازگر حملهٔ صلیبیِ معاصر علیه اسلام بود می‌پردازیم:

جرج بوش (پسر) ۲۰۰۰-۲۰۰۸

چهل و سومین رئیس‌جمهور آمریکا جرج دبلیو بوش بود که به خاطر شباهت با نام پدرش به بوش پسر معروف شد.

بوش پسر در خدمت کردن به یهود از تمام رؤسای جمهور قبل از خود پیشی گرفت و دشمنی با اسلام و مسلمین را به حد انتها رساند.

او عقیده داشت که: یهود تنها گروه منتخب از جانب خدا بر روی زمین است.

اولین رئیس‌جمهوری بود که از بودجهٔ دولت تعلیمات دینی را تمویل می‌کرد با وجود اینکه دولت آمریکا به عنوان یک دولت سکولار خود را معرفی می‌کند و نسبت به دین موقف بی‌طرفانه را تبلیغ می‌کند.

پست‌های مهم وزارتی را به یهودی‌ها داد خصوصاً وزارت دفاع که به شکل کامل در سیطرهٔ آن‌ها درآمد؛ (دیک چینی) معاون رئیس، (رونالد رامسفیلد) به‌عنوان وزیر دفاع، (پاول وولفوتز) معاون وزیر دفاع، (ریچارد بیرل) مشاور وزارت دفاع و (کاندلیزا رایس) مشاور رئیس‌جمهور در امور امنیتی که بعد به وزارت خارجهٔ آمریکا ارتقاء پیدا کرد، همهٔ این‌ها یهودی‌الاصل هستند.

اینکه آمریکا تا چه حد در پی جنگ با کشورهای اسلامی است و به‌عنوان جنگ علیه تروریسم بین‌المللی از این کار یاد می‌کند، درواقع همه برای اهداف یهودیت و در پی برپایی حکومت جهانی یهود است.

زمانی که آمریکا حمله به افغانستان را به بهانهٔ مبارزه با القاعده آغاز کرد، بوش در بیانیه‌ای اعلان کرد که این یک جنگ صلیبی علیه اسلام است؛ اما بعداً که اعتراضات از گوشه گوشهٔ دنیا بلند شد، این حرفش را انکار کرد.

یهودی‌ها برای اینکه بتوانند افراد سیاسی و با نفوذ از سراسر دنیا را به خود جلب کنند مؤسسه‌هایی تأسیس کرده‌اند که با پوشش‌های مختلف و در قالب سازمان‌ها خیریه و انجمن‌های بشردوستانه فعالیت می‌کنند.

یکی از این‌ها سازمان جهانی فراماسونری است که سری‌ترین و مخوف‌ترین سازمانی است که تا کنون شناخته شده است. فراماسون یا فراماسونری که در عربی به الماسونیة و در انگلیسی به (free masonry) معروف است سازمان‌های زیادی دیگری زیر تشکیلات خود دارد.فراماسون در هر کشوری یک معبد دارد که اصطلاحا به آن لُژ فراماسونری گفته می‌شود و تمام امور مربوط به افراد فراماسون مستقر در آن کشور از طریق آن معبد مدیریت می‌شود.

در افغانستان تا سال ۲۰۱۶ دو معبد فراماسونری فعالیت می‌کرد که یکی در کابل و دیگری در قندهار بود. در قالب این دو معبد مؤسسات زیادی در افغانستان فعالیت می‌کرد.به موضوع فراماسون نیز به شکل جداگانه و به تفصیل خواهیم پرداخت ان‌شاءالله.مجموعهٔ مؤسساتی که به خدمت یهود در سراسر دنیا کار می‌کند به صدها مؤسسه می‌رسد.

## د تالقانو ښاروالۍ تېر کال شاوخوا ۷۶ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي

د تالقانو ښاروالۍ مسوولینو د تېر ۱۴۰۱ لمریز کال د لاسته راوړنو راپور د یوې خبري غونډې په ترځ کې له رسنیو سره شریک کړ.

په دې غونډه کې د تالقانو ښاروال قاري نقیب الله محمد وویل، چې د یاد ولایت د ښاروالۍ ریاست په ۱۴۰۱ مالي کال کې له ثابتو او غیر ثابتو عوایدو څخه شاوخوا ۷۶ میلیونه افغانۍ عواید راټول او له دې جملې څخه ۳۳ میلیونه افغانۍ د پراختیایي پروژو په پلي کولو کې مصرف کړي دي.په همدې حال کې د تخار د ملي راډیو تلویزیون آمر قاري محب الله نیکزاد د تالقانو ښاروالۍ اداري له لوري خلکو ته د حساب ورکولو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، هغه ښاریان چې دولت ته مالیه ورکوي، باید پوه شي چې مالیه یې چېرته او په کومو برخو کې لګول کېږي.

له بلې خوا د ګذر یو شمېر وکیلانو او د اصنافو استازو د تالقانو ښاروالۍ ریاست د مثبتو کړنو ستاینه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې د ښار د نظم او تنظیف لپاره هر ډول همکاریو ته چمتو دي.

د یادونې وړ ده، چې د تخار د دولتي ادارو په عوایدو کې د تېر په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

## لغمان کې د نږدې ۱۴ میلیونو افغانیو په لګښت د څښاک اوبو ۴ شبکې جوړېږي



د لغمان د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په دولت شاه او الینګار ولسوالیو په بېلابېلو سیمو کې د څښاک اوبو د څلور شبکو د جوړولو تړونونه د اړوندو سیمو له پراختیایي شوراګانو سره لاسلیک شول.

د دغه ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا مسؤلینو په خبره، چې دغه شبکې د علینګار ولسوالۍ اړوند ننګدړ، متېنک ګورګنډي، بره کنده کلیو کې او دولت شاه ولسوالۍ اړوند رسامي ډنګرو په کلي کې جوړېږي، چې نن د یادو شبکو قراردادونه د اړوندو سیمو د شوراګانو له استازو سره لاسلیک کړل.

مسؤلین زیاتوي، دغه شبکې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۱۳ میلیونه، ۹۴۲ زره او ۳۷۳ افغانیو په لګښت جوړېږي، چې چارې به یې د ۶ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

نوموړي زیاته کړه، چې د یادو شبکو له جوړېدو سره به ۱۱۸۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شي.

## سرپرست وزارت تحصیلات...

و آموختن تمام علوم کرده است تا ما پیلوت، انجنیر، داکتر و معلم از خود داشته باشیم.در این گردهمایی شیخ‌الحدیث ندا محمد ندیم سرپرست تحصیلات عالی کشور در سخنرانی گفت: هر یک از مسوولان امارت اسلامی مکلفیت‌های خاص خود را دارد و باید آن را درک نموده و به مردم خدمت کند، همین‌طور محصلین پوهنتون‌ها مکلفیت دارند تا به صورت درست درس بخوانند که در آینده مصدر خدمت مردم خود شوند.»

وی از اساتید پوهنتون خواست تا ضمن تدریس به افکار محصلین خود هم متوجه باشند تا افکار این جوانان تحت تاثیر افکار استعماری، کفری و اجانب قرار نگیرد.

## د بغلان اوبو...

د ذخیره کولو او د برېښنا تولید یې له ستونزو سره مخ کړی دی.

د یوبل خبر له مخې؛ د پنج آمو سیندیزې عمومي حوزې رئیس انجنیر رفیع الله مجتبی د FAO دفتر له مسؤلینو سره وکتل.په یاده لیدنه کې د نوموړي دفتر مسؤلینو د خپلو برنامو په هکله د پنج آمو سیندیزې عمومي حوزې رئیس ته بشپړ معلومات وړاندې کړل او د پلي کولو برخه کې یې د همکارۍ غوښتنه وکړه.د پنج آمو سیندیزې عمومي حوزې رئیس په دې لیدنه کې د یاد دفتر له مسؤلینو سره د هر راز همکارۍ ژمنه وکړه.

## وقوع زمین‌لرزه نسبتاً...

در مورد تلفات ناشی از این زمین‌لرزه چیزی نگفته‌اند.ریاست مبارزه با رویدادهای طبیعی پکتیکا می‌گوید که این زمین‌لرزه صبح روز یک‌شنبه، ۲۴ ثور، در ولسوالی گیان و ولسوالی‌های همجوار آن حس شده است.

هرچند مسوولان محلی دراین باره جزئیات نداده‌اند اما باشندگان محل به رسانه‌ها گفته‌اند که در اثر این زمین‌لرزه ۱۰ منزل مسکونی تخریب شده است.

با این همه، مرکز زمین‌لرزه‌نگاری هند گزارش داده که این زمین‌لرزه با قدرت ۴.۳ ریشتر در عمق ۶۰ کیلومتری عمق زمین در ۱۵۱ کیلومتری جنوب‌شرق کابل، رخ داده است.

پس از وقوع زمین‌لرزه مرگبار و ویرانگر نزدیک به یک سال پیش در گیان پکتیکا، زمین‌لرزه‌های خفیف در این ساحه ترس باشندگان این ولسوالی را مبنی بر تکرار رویداد قبلی افزایش داده است.

## د ۲۰۷ الفاروق قول...

ته چمتو کړي دي.

د سرچینې د مالوماتو له مخې په دغو وسایطو کې ۲۵ انټرنیشنل، ۱۶ رنجرې، ۵ امبولانسونه، ۵ عرادې ټریلر، ۵ بلدوزرونه ، ۵ دمترک او یو شمېر نور وسایط شامل دي.

## سفر دیپلمات‌های...

گفته شده که آقای یحیوی، سرکنسول جمهوری اسلامی ایران در مزار شریف در دیدار با والی کندز در مورد علاقه‌های مشترک، افزایش مبادلات تجاری وصنعت گردشگری بین دو کشور باهم بحث و تبادل نظر کرده اند. همچنین در این دیدار روی موضوعات ترانزیتی و آموزشی نیز بحث شده است.

# پر اولاد د مور او پلار حقوق

شاه محمود درویش

مور او پلار په خپلو اولادونو ځانګړي حقونه لري لکه څنګه چې د قران عظیم الشان په یو مبارک ایت کې داسې راغلي دي : ژباړه: ((ستا پروردګار حکم کړی، چې پرته له هغه به د هېچا بندګی نه کوئ او له مور او پلار سره به نیکي او ښه چلند کوئ، که تا سره له هغونه یو یا دواړه زړښت ته ورسېږي نو هغو ته اف قدرې څه مه وایه او مه یې رټه بلکې نرمې او پستې خبرې ورته کوه او هغو لپاره د عاجزۍ او مهربانۍ پستې وزرې وغوړوه او دا دعا کوه پروردګاره پر دوئ رحم وکړې لکه څنګه چې دوئ له زړه سوي او خواخوږي سره په ماشومتوب کې زه پاللی یم. د مور او پلار اطاعت او له هغوی سره ښېګڼه او خدمت او د زړښت او بوډاتوب حق پېژندل یې او د هغو نه ځان تیټ ګڼل او د مرګ نه وروسته ورته دعا کول دا واجب حقوق دي چې د اولاد په ذمه باندې الله (ج) ایښي دي.په اسلام کې د والدینو اطاعت ډېر لوی اهمیت لري امام قرطبی وایي: (( الله پاک په دې ایت کې د والدینو درناوی او له هغو سره ښه سلوک له عبادت سره تړلی بللی او واجب کړی یې دی) ابن عباس رض فرمایي: په قرانکریم کې درې ایتونه داسې پیوست نازل شوي، چې پرته له تراوه تنها د بل ایت ویل او کول الله (ج) نه قبلوی لکه:(اطیعواالله واطیعوالرسول) نو که چا د الله اطاعت وکړ او د رسول الله (ص) اطاعت یې ونه کړ الله پاک یې هغه عبادت نه قبلوي او لکه: (واقیمواالصوة واتو زکوة) نو که څوک لمونځ وکړي او زکات ورنه کړي، نو د ده دا لمونځ الله تعالی نه قبلوي او یا دا ایت: (ان اشکرلی والوالدیک) یعنې زما او د والدینو اطاعت له ټولو مهم دی او لکه د خدای د شکر په ځای کول د والدینو د شکر د ادا کولو په شان واجب دی او څوک چې د الله شکر وباسي او د والدینو ناشکري کوي الله پاک یې نه قبلوي.بخاری شریف یو حدیث را نقل کړی له رسول الله (ص) نه چا پوښتنه وکړه چې د الله پاک په نزد کوم عمل ډېر محبوب دی؟ هغه مبار ک وفرمایل چې له والدینو سره ښه سلوک.بخاري ادب مفرد کې د عبدالله بن عباس رضی الله عنها یو حدیث را اخیستی فرمایي : ژباړه: یو مسلمان کس چې مسلمان والدین ولري او د ثواب په خاطر هغوئ ته وګرځي الله پاک به ده ته په جنت کې دوې دروازې خلاصې کړي نو که یو وي نو یوه دروازه به ورته خلاصه شي او که له والدینو یو هم ناراضه وي ترڅو چې یې هغه راضي کړی نه وي الله پاک به ترې ناراضه وي چا پوښتنه وکړه اګر چې والدینو پرې ظلم کړی وي ویې فرمایل هو که څه هم د والدینو له خوا پرې ظلم شوی وي.همدارنګه جامع ترمذي او د حاکم مسدرک د عبدالله عمر و بن العاص نه روایت راوړی چې رسول الله (ص) فرمایلي: د الله پاک رضا د مور او پلار په رضا کې نغښتې ده. خلاصه داچې د ژوند په پړاویزو شیبو کې سل په سلوکې باید د خپل مور او پلار اطاعت، درنښت او خدمت وکړو او تل د ښو او غوره خدمتونو په ترسره کولو د دوی زړه خپل او رضایت یې حاصل کړو ځکه چې د پاک الله رضایت د مور او پلار په رضایت کې نغښتی دی، نو بې له شکه نېکمرغه به وي هغه انسان چې په لومړي قدم کې د پاک خدای(ج) عبادت په ښه توګه ترسره کړي او همدا راز خپلې ټولې ورځنۍ چارې د اسلامي شریعت په رڼا کې سمبال کړي ترڅو په دې توګه د دنیوي او آخروي دوارو ښېګنو برخمن شي.




# د مسافرو شهیدانو غمجنه کیسه:

قاري ساجد تکل

له فتحې مخکې د پکتیا احمدآباد ولسوالۍ د زخمیانو مسؤل وم او څو کاله پر همدې مسئولیت پاتې شوم.

دې موده کې عجیبې نادرې کیسې زما د سترګو پر وړاندې تېرې شوې، د ډېرو اتلانو د بدن غوښې مې پر خپلو لاسونو راټولې کړې، ډېرې سلګۍ چیغې او آهونه مې اورېدلي دي، ډېرو اتلانو مې د سترګو مخې ته خپل ارواح رب کریم ته سپارلي او د ستر اعزاز شهادت مقام یې تر لاسه کړی دی.خو یوه داسې کیسه او خاطره چې ما ولیدله او تل به مې له ذهنه نه وځي ، تل به هغه سوې چیغې او سلګۍ زما غوږونو کې کرنګېږي هېڅ به هغه ژړاګانې راڅخه هیرې نه شي.هغه داسې چې په۱۴۴۱ هجري قمري کال و، په هېواد د اشغال تور تریخجن څادر غوړېدلی و، هرې خواته د بشر دښمنانو چاپې او بمبارۍ کولې، هر ولایت او ولسوالۍ کې کونډې یتمان کېدل، هرځای د سرو لاسونو ناوکۍ ژړېدلې. دې حلاتو د مجاهدینو جذبې را ژوندۍ کړې د هېواد زلمو د طاغوت پر وړاندې ګرندي ګامونه واخیستل، د زنګ شویو ټوپکو سره د غزا میدانونو ته را ووتل، د سترې کفرې نرۍ په وړاندې او د خپلو هېوادوالو دفاع ته لکه سندان کلک شول، هڅه یې کوله ترڅو په هېواد کې ظالمان غوښ مات کړي، د رب نصرتونه ورسره مله وو او هرې خوا به ګرځېدل ، د نصرتونو او رحمتونو باران پرې شروع شو، هرې خواته فتوحات پیل شول ورځ تر بلې د جابر دښمن د کبر کاسه د نسکورېدلو او چپه کېدلو خواته روانه وه.

یوه ورځ زموږ د پکتیا والي صیب د مرکز ګردېز، سیدکرم، احمدآباد پر مجاهدینو د یو ځای عملیاتو او تندریزو عملیاتو غږ وکړ، د مخابرې لوډ سپیکر دروند غږ ونیولو، دا غږ د ستر جهادي قومندان مولوي حمزه غږ و، زیاته یې کړه دښمن مرال بایللی دی، کړۍ پرې را تنګه کړئ او بېګا ته پرېکنده عملیات وکړئ.!زموږ د والسوالۍ ډلګۍ مشران او د ولسوالۍ نظامي ولسوال یوه خړ مسجد کې د پلان په ترتیبولو لګیا شول.د لنډ مجلس وروسته د پکتیا مچلغو سیمه د عملیاتو لپاره إنتخاب شوه.ځکه دا داسې سیمه وه چې فتحه شي، د څو ولسوالیو مجاهدین بغیر له کوم تکلیف او مشکل تګ راتګ، او سره وصل کېدلای شي.ماز یګر ناوخته څو دنګ زلمي لګیا شول، خپلې زنګ وهلې اسلحې یې پاکولې او څو تنکیو زلمیانو بیا سترګې تورولې څو اتلانو خپلې ښایسته تورې څنې ږمنځولې، تا به ویل کومې ښادۍ ته ځانونه سنګاروي.ماښام مخابره کې غږ وشو چې ټاکلي ځای ته ملګري ورسوئ، له څو دقیقو وروسته نرۍ دورې په خام سړک پورته کېدلې، او د ټپ ټپ (غره هاري) د خرپر کلي خاموشي په خوځښت بدله کړه، تابه ویل ځمکه طالب جان ته خنداګانې او سلامي کوي، او خوښه ده چې د نن عصر نړیوال اتل پرې ګزمه او جهادونه کوي.ټاکلي ځای کې د هرې ډلګۍ دوه دوه ښایسته زلمي د تعروضانو قطار کې ودرېدل، مسؤل ور معلوم، لیزریان یې منتخب او د ګرنیټونو وال مجهز ودرېدل.له مخونو یې سپینې شغلې را وتلې، د هر یوه د سرو شونډو منځ کې سپین غاښونه لکه سپینه پرقېدلې توره ځلېدل، کرار غونډې مسکاوې یې کولې.دوی مو رخصت کړل، پاتې ملګري د کمین خواته روان شول.ټول غلي او غوږ نیولي ناست و چې یو دم د مخابرې لوډسپیکر څخه د تکبیر ملکوتي چیغه اوچته او د څو پوستو پر برجونو/ټاورو سرې لمبې ونښتلې.دودونه د آسمان خواته ختل او له آسمانه نصرتونه را روان و، څو زلمي لګیا وو د اورونو/ مرمیو سره یې لوبې کولې، هر عاشق هڅه کوله ترڅو ژر د شهادت جام لکه تږی جل وهلی مسافر په سر واړوي.له څو دقیقو جنګ وروسته خدای پاک عظیمه فتحه ملنګو زلمو ته ور په برخه کړه.له اوږده څنډ وروسته د فتحې خوشحالۍ د بنګنو غږ خاموشه کړه، په ملګرو مو د احتیاط نارې او غږونه کول.څو دقیقې لا نه وې وتلې چې د تعروض په ملګرو باندې سخته بمباري شروع شوه، او زیات وخت یې ونیولو.له بمبمار وروسته لږ شېبه موږ ټول غلي ناست و د مخابرې غږ شو، هلئ ژرکوئ ملګري ولګېدل دوی دروړئ!!بنګنې لږ آرامې شوې، د هدف ځای ته مو څو موټران ور روان کړل، ګورو چې پنځلس ګلونه ملګري زخمیان دي او یو تکړه جید عالم د تعرضاتو مسؤل مولوي ابودجانه شهید شوی دی.ورو ورو سلګۍ کېدلې، هره دښته کې مات زلمي پراته و. ژر ژر مو له ساحې زخمیان انتقال او مفتوحه سیمې ته مو راوړل، مسجد کې بروبار جوړ شو، هر مشر او کشر لګیاو ترڅو د مات شویو اتلانو پر ګلابي زخمونو پټۍ سریښ او ولګوي، د دوی منځ کې څو زلمکي پر وینو سره پراته د آه او درد آوازونه یې کول.له اولویه علاج وروسته، مو د ښې تداوۍ لپاره د لوګر برک برک او ځاځي آریوب خواته یوړل.

شهید عالم د جومات منځ کې لکه دنګ چنار چې نړېدلی وي پروت، ترڅنګ یې خپه یاران ناست او په سرو سترګو یې ژړل، ځکه د فراق غم یې یارانو ته غاړه ورکړه.سهار نهه بجې مو د شهید ملګري لپاره د مرکزه آمبولانس را وغوښت، ترڅو شهید ملګری خپلې کورنۍ ته ورسوي.آمبولانس را ورسېد، په سلګیو مو له موټره بدرګه کړ، موټر حرکت وکړ ټول ملګري خاموش ودرېدل ترڅو یې پسې کتل کله چې موټر پر پورې ګوټ پنا شو، دوی غلي غلي راغلل او د مسجد دېوالونو ته یې ډډه ووهله، هر یوه یې پر ځنګون سر ایښی د تللي یار سوچونو کې ډوب شول.زه هم راغلم له مسجده مې خپل سامان ټولولو چې مخابره کې غږ رابانډې وشو، ساجده! وساجده! اورې؟غږ مې ورته وکړ: هو اورم، خدای شته زما په شمول د منطقې ملګري ټول سخت ستړي او ستومانه و،غږ کوونکي وویل: موږ سره ستا مربوط کسان دي چېرته یې در وړو؟ ومې ویل: یاربه خیر پېښ کړي، در کښته کېږم، لږ انتظار وکړئ!

د ټپ ټپ / موټرسیکل لنډ مزل وروسته مې پر ډاټسن موټر سترګې ولګېدې، چې د ډاټسن موټر بادۍ ته ځیر شوم، له بادۍ ځاځکي ځاځکي وینې بهېږي، ګورم چې دوه تنکي شهیدان په کې پراته دي.

ور نږدې شوم موټروان ته مې وویل: وروره دوی څوک دي او چېرته شهیدان دي؟

موټروان وویل: د دوی د شهادت نن نهمه ورځ ده، دوی تېر د کرکین جنګ کې ډرون ویشتلي و او د غره یوه څنډه کې پاتې شوي وو، لومړی ډرون ویشتي او څو ورځې پرله پسې لمر ته پراته وو، طبعي ده چې انسان خرابېږي، خو دوی داسې حالاتو کې وو، تابه ویل اوس شهیدان شوي دي ځکه لا هغسې ورڅخه وینه روانه وه.!ژر ژر مو را کښته کړل، د مسجد برنډه کې مو کېښودل او د تابوتونو پیدا کولو کې لګیا شوو.خو زه دې سوچ کې وم چې اوس دوی د کوم ځای دي او د چا ملګري دي.په دې ورځ سخته بنګنه ګرځېدله، خو مبائل مې روښن کړ، ځکه غوښتل مې چې د دوی معلومات وکړم،له څو رابطو وروسته پته راته ولګېده چې یو د زرمت ولسوالۍ قاري نعمت الله او بل یې د بدرین ملګری دی.دې ورځو کې حالات بیخي خراب وو، د مجاهدینو تندریزو وارونو دښمن وارخطاء کړی و، دښمن هم لکه وږی او لیونۍ سپی هرې خواته خوله اچوله.ځان سره مې وویل چې که دوی اوس زرمت ته ولېږو، د لارو مشکلات هرځای تلاشیاني دي او سخته لا داده چې د زرمت هم ټولې لارې ماینکاري شوې دي، هسې نه کورنۍ، خپل خپلوان یې را روان شي او موټر یې د ماین ښکار نه شي.خو د منطقې ډلګۍ مشرانو سره مو هم مشوره وکړه، هغوی وویل باید دلته دفن کړل شي، بیا مې هم زړه قرار ونه موند را پورته شوم د زرمت څو ډلګۍ مشرانو سره مو هم رابطه وکړه؛ هغوی هم وویل چې دغلته یې کومه هدیره کې دفن او خاورو ته وسپارئ، زموږ لخوا درته اجازه ده، د کورنۍ مسؤلیت یې زموږ پر غاړه دی، خدای دې تاسو خوشحاله لري.ما هم همداسې وکړل، قبرونه مو ووهل، تابوتونو کې مو کېښودل، مسافر شهیدان مو د هدیرې خواته روان کړل، د مسافرو شهیدانو د کټ پښې څو مشرانو مجاهدینو نیولې وې، ویل د دوی که نن کورنۍ خپل خپلوان، قربیان نشته موږ یې د څنګ خلک یو، موږ یې هرڅه یو، موږ یې تر قبره وړو.قبر ته مو ټیټ کړل، او په مسافرو زلمو مو خاورې واړولې.داسې په جوش کې تقریرونه وشول، چې د هر زلمي وینه د جذبې رګو کې ګرمه تاوېدله.بیا ځل په قوي نعرو سره د بیعت او انتقام چیغې د اتلانو د خولو څخه را وتلې او د قبر څنګ کې څو زلمیو د شهادت ګوتې پورته کړې ناست ول.مازیګر ناوخته د مرکز خواته ستړي ستومانه روان شوو.وخت وتلو بار بار به د مسافرو طالبانو قبرو ته زما په شمول زیات مجاهدین تلل راتلل، او عوامو خلکو هم ماشومان وروړل کوم به چې مریضان وو، دلته د دوی د قبرونو زیات قدر کېدلو/لا هم کېږي.

یوه نیمه میاشت وروسته د یوه نمبر څخه زنګ راغلو، السلام علیکم... څخه وروسته پوښتنه هم خلاصه شوه، او ویې ویل: تاسو قاري ساجد یاستئ؟ ومې ویل: هو هغه یم، ټیلیفون کونکي وویل: موږ د دفن شویو شهیدانو وارثان یو، یو ځل راسرهووینه، او قبرونه یې راته وښیه.!خوشحاله شوم ژر مې موټرسیکل چالان کړ او لارې ته ووتلم، څو دقیقې وروسته زما موټرسیکل د مخه روان او د دوی دوه موټر له شا راپسې روان شول، هدیرې ته ورسیدو، زه له موټر سیکله کښته شوم او په لاس مې د قبرونو خواته إشاره وکړه، دې وخت کې د موټرو دروازې خلاصې شوې، ورڅخه څو زنانه را کښته شوې او چیغې یې شروع کړې.په قبرونو د پاسه پرېوتلې، آه مسافره زویه، آه زلمیه زویه، و زما نازولیه زویه، و ورکه زویه دومره یې وژړل چې نور ماهم بې اختیاره ژړا شروع کړه.

دو ژړل مامې سترګې پاکې او سلګۍ مې کنترول کړې د موټروان څخه مې وپوښتل: دوی د شهیدانو څه دي؟

هغه وویل: دلته د شهید مور، ښځه او خویندې راغلي دي.د قبرونو خواته به مې چې وکتل لا هم په قبر یو رقم تېزې ژړاګانې شروع وې، آن چې د نږدې کورونو د بامونو څخه خلک زموږ په ننداره شول.

ما د والسوالۍ څو ډلګۍ مشران او د کمېسیون مسؤل را وغوښتل، هغوی را ورسېدل او راغلیو سپین ږیرو او ځوانانو ته مو د قبرونو څنګ کې فاتحه وکړه، موږ لا مجلس کې و چې یوه زړه ښځه راغله، او زما نوم یې واخیست ماته یې وویل:

زویه تا ماسره ښه ونه کړل چې زما د اجازې پرته دې زما بچی خاورو ته سپارلی دی، ځکه دوه کاله کېږي ما مې د زړه ټوټه، لخچې ځیګر نه ؤ لیدلی آن تر دې چې راڅخه شهید شو.ما کښته سر ځوړند کړ، د شهید زړه مورکۍ لګیا وه او سلګیو کې یې خبرې راته کولې، کله به چې یې د زوی کومه خاطره یادوله، د سلګیو پر ځای به یې دردونکې سوې چیغې وکړې، ویل: زویه زه یې اوس په ناوې ښځه څه وکړم، زه یې اوس ماشوم زوی کوم در او درګاه ته یوسم. خو داسې وکړه زویه موږ خو د لرې ځای یو، یوه وعده راسره وکړه چې هرځل او هر وخت یې مسافرو قبرونو ته راځه!ما هم د (هوکې) سر وخوځولو، موږ لا هم خبرې کولې چې د شهید د ناوې او خویندو چیغو هدیره په سر راخیستې وه.زړه مورکۍ را څخه جګه شوه او د قبرونو خواته روانه شوه، هلته یې بیا د چیغو غږ زما تر غوږونو شو.له زیات وخت وروسته کله چې روانېدل، د شهیدانو خویندې ورسره راغلو سړیو د قبرونو څخه په زور سره را پورته کړې او تر موټره یې بوتلې. کله چې یې مور موټر ته ختله پر ما یې غږ وکړ: زویه پرتا مو سپارلي دي، ګوره چې په قبرونو یې پام وکړې، دلته یې پلار هم یې، مور یې هم یې هرڅه یې ته یې.!دوی روان شول، موږ د دوی په موټرو پسې تر ډېره کتل او اوښکې مو پاکولې.

کله چې دغه کیسه ما ولیدله، نو څو میاشتې داسې حالاتو ته ورسېدم چې ګویا لیونی وم او د شهیدانو د زنانه وو چیغې باربار راته سترګو ته کېدلې او ذهن کې مې ګرنګېدلې.

**مجاهدینو ملګرو!**

مطلب مې د دې حقیقي کیسې دادی چې دلته د نظام د راتګ لپاره رښتوني مقدسې پاکې قربانۍ وشوې، غیورو ښځو خپل بچي قربان کړل.

واده شویو پېغلو خپل واده کړي زلمي او لالي ځار او د نظام د راتګ لپاره نذرانه کړل، او ډېرو زموږ تاسو د څنک ملګرو یتیمان زموږ تاسو پر ډاډ پرېښودل.

خو طالبه وروره! مسئوله وروره! او اې عوامو خلکو!!

اوس وخت کې د دې تللو اتلانو، سرښندونکو فدایانو او شهیدانو د بچیانو ساتنه، پالنه زموږ تاسو یو دروند مسئولیت دی.اوس باید د شهیدانو آرمانونو ته هم ژمن او د قربانیو قدرېې هم وکړو.مجاهدینو ملګرو ګورئ ستاسو د مورچل، سنګر ملګري وو ګورئ،ګورئ چې د هغوی پر پاکو او مقدسو وینو سودا ونه کړئ، خیانت ونه کړئ، قسم د رب العباد په ذات چې بیا په محشر کې د دوی مورکیو ته، بچیانو ته ځواب ویل سخت دي.د دوی په وینو راغلی نظام هم ګورئ سرسخته ساتنه غواړي، خداي مکړه موږ تاسو مایوسه او په کور کینو، بیاهم د دوی له پوښتنو نشو بچ کېدای.نو راځئ چې هم د دوی وینو ته وفادار شو، هم یې د کورنیو بچیانو حال احوال واخلو او هم یې بچیانو ته د درسونو زمینه برابره کړو، هلته به مو مسئولیت ادا او د سختو پوښتنو به خلاص یو.

## د مسلمان ګرېوان

**پوهاند: فضل ولي (ناګار)**

د کليسـا د ناقوس ګرد چې په حرم پرېوځي
د مسـلمان په لوی کاله لړې د غم پرېوځي
د قـدس قاتل وينځي لمنه د خليج په اوبو
خون يې له غاړې نه په غسـل د زمزم پرېوځي
د پيغمـبر د کورنۍ آزار وهلي خلک
ستـه د شر يې په هر لور سـپېره قدم پرېوځي
هغه افغان کلا بند کړی رسـوا کړی کفر
بې دمه سـاه د اطمينان اخلي په دم پرېوځي
دلته او هلته مسـلمان ناځانخبرې ګوډا
د يـو پـه ناز باندې پاځي د بل په رم پرېوځي
پـه مـد و جزر د خليج کې دا د کفر نڅا
هره نغمه يې له شـيطانۍ نه زېر و بم پرېوځي
د مسـلمان ګرېوان ته لاس ورور مسلمان اچوي
دارالامان باندې بلوا د سـتر ماتم پرېوځي
د اسـلامي ويښتابه وړانګې د ختيځ په مورګې
ختلی سـتوری د سهر په شومه دم پرېوځي
د ذوالفقار وارثه هېر دی شـو پيغام د خيبر
کاږه واږه د زر او زور په توره سـم پرېوځي
ازمېښـت ليدلې دا يوه د مسلمان جونګړه
چې تندرونه د سـتم پرې چم په چم پرېوځي
سرخـي بـه يې هېڅ چپاو د وخت له پاڼې لرې نه کا
د زړګـي وينې دی ناګاره له قلم پرېوځي

## ته دې تل وې زما ملته

**محمد زمان مزمل**

تـه دې تل وې زمـا ملته د ځامنو ياد دې تل وي
چـې په مـرګ يې را ژوندي کړو دا د مړنو ياد دې تل وي
په سـحر د ازادۍ کې چې مخونه جل و بل کا
دا به وايو په سـنګر کې د ګردجنو ياد دې تل وي
چې سـبا په باغ و راغ وم کله بېل او کله لور وي
